مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۲/۰۲/۰۲

# تازه کلام

نه چا غُنچه راوړه نه چا د ګلو هار یاره
څه تنهایي ده او زه پروت یمه بیمار یاره

اوس د هغې تېرو یادونو ته موسکی موسکی شم
چا چې را کړی دی په زړه باندې پرهار یاره

باد، ور را وټکوي زه لوڅې پښې منډه کړم
ځنګه تعریف کړمه چې څه وي انتظار یاره

زه یې په خیال کې د زړګي هره درزا شمارمه
چا ویل په پټو سترګو نه کیږي دیدار یاره

عرش لړزیده او ما ژړا د پرښتو اوریده
په یو یتیم باندې چا کړی و، ګوزار یاره

جام مې و لاس کې ځنګیدمه، مرشد موسک شو راته
وې خدای دې ساته له نشې د اقتدار یاره

د خپل وطن د فراق خیال مې داسې و دردوي
لکه ازغو کې چې څوک ځغلې بې پایزار یاره

جونګړه جوړه کړې، بس ایسته یې توپان کړي ړنګه
چې دې ملنګ (نعمان) ته چا کړی ازار یاره

نعمان دوست
۱۴۰۰/دلو/ ۱۲

.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ